CPAU

AREU
Afghanistan Research and Evaluation Unit

دیدبان اصالت افغانستان
Integrity Watch Afghanistan

Civil Society & Human Rights Network (CSHRN)

Afghanistan Watch
دیده‌بان افغانستان

Open Society
Afghanistan

WCLRF

Foundation for Culture and Civil Society

Humanitarian Organization for Local Development

NOOR
Foundation

# مدني ټولنه دافغانستان له حکومت څخه غواړي تر څو معلوماتو ته دلاسرسي قانون په تصویب سره افغانان له فساد څخه وژغوري

دمدني ټولنې استازو دکابل کنفرانس له دایریدلو وړاندې هوکړه کړې تر څو دافغانستان له حکومت څخه واغواړي چې معلوماتو ته دلاسرسي قانون تصویب کړي. نوموړی قانون دمدني ټولنې او د بشر دحقونو دشبکې له خوا چمتو شوی تر څو داساسي قانون د۵۰ مې مادې له مخې چې معلوماتو ته دلاسرسي اړوند ده ، دافغانانو بنسټیز حق ورکړل شي. دوروستئ سروې له مخې چې په ۲۰۱۰ زیږدیز کال کې تر سره شوه، دېږو اخستل ددرې وروستیو کلونو په اوږدو کې دوه برابر ه لوړ شوي او نږدې یو میلیارد ډالرو ته رسیږي. معلوماتو ته نه لاسرسي فساد او بډو ته یوه مساعده فضا برابره کړې او خلک یې له هغه خدماتو څخه محروم کړي چې دافغانستان ددولت او بهرنیو مرستو له لیاري چمتو شوي.

معلوماتو ته لاسرسی ددولت دقانوني کولو ، دکار جوګه کولو او پر دولتي ادارو دخلکو داعتماد دجلبولو او دبشر دحقونو دساتلو په برخه کې یو مهم کار دی . معلوماتو ته دنه لاسرسي له امله ښځې په انزوا کې واقع کیږي ، عامه خدمتونو او دشکایتونو میکانیزم ته محدوده لاسرسي پیداکوی. اغیز منونکې خلک او بې وسه کورنی دولتي ادارو ته دمراجعي او دچارو په بشپړولو کې له فساد او خویش خوری سره مخ کیږي چې دغه کار په پرمختیایي چارو کې ددوی دونډې دکمیدلو او دژوند دخرابیدو لامل ګرځي. څکه چې دغه خلک روغتیایي ، عدلي ، ښوونې او روزنې او داسې نورو خدمتونو او سرچینو ته برابر لاسرسي نلري.

دافغانستان حکومت داداري فساد پر وړاندې مبارزې ته خپله لیوالتیا څرګنده کړې او مدني ټولنه له حکومت نه غواړي تر څو معلوماتو ته دلاسرسي دقانون په تصویبولو سره خپلې هڅې داداري فساد پر وړاندې لا ګړندی کړي تر څو هغه تشې چې ددولت او خلکو تر منځ کمې او دخلکو ژوند عامه خدمتونو ته دلاسرسي له لیارې بهبود پیدا کړي. معلوماتو ته نه لاسرسي نه یواځې دخلکو دزیانمن کید او دفساد دزیاتیدو لامل ګرځي ، بلکه تمویلونکي یقیني کوي چې دمالیاتو دراټولولو له لیارې ددوی مرستې په غیر مسولانه ډول لګول شوي دي.

داساسي قانون له مخې ، خلک دعامه ادارو دکړنو اړوند معلوماتو ته دلاسرسي حق لري ، خو اوس مهال یو ملاتړ کوونکي قانون په لاس کې نشته. معلوماتو ته دلاسرسي قانون خلک ځواکمن کوي او له مرکزي حکومت سره مرسته کوي تر څو دولایتونو او ولسوالیو په کچه عامه خدمتونو ته دلاسرسی په اړه اطمینان تر لاسه کړي. همدارنګه نوموړی قانون دخلکو برابر ژوند او پر دولت دخلکو اعتماد پیاوړی کوي. دغه قانون

دافغانستان له حکومت سره دتمويلونکو له خوا دافغانستان دخلکو د اړتياوو دپوره کولو په برخه کې هم مرسته کوي.

له حساب ورکونې پرته يو روڼ سيستم ښې دولت دارۍ ته مرستندوی نه ثابتيږي . له دې امله دپاليسيو له جوړونکو څخه غوښتنه وشوه تر څو معلوماتو ته دلاسرسی قانون په رسمي ډول اعلان او پلې کړي چې دخلکو او دولت تر منځ داعتماد او احترام درامنځ ته کيدو لامل گرځي. نوموړی قانون بايد دنورو محتوياتو تر څنگ لاندې ټکي ولري:

- معلوماتو ته لاسرسی برابروي ، چې کيدای شي دشخصي او عامه ادارو په واک کې واوسي ، لکه مرستندويه ټولنې او فرعي قرارداد کوونکي
- دمحدوديتونو او جريمې وضع کول، لکه دهغو چارواکو له دندو څخه گوښه کول چې معلومات يې پټ کړي وي.
- ددولتي کارکوونکو دمسوليتونو او دعامه خدمتونو دپروسيجر خپرول ( مهال ، دپيسو اندازه ، داړتيا وړ اسناد...)
- داصلي اسنادو دفوتو کاپي کولو حق تر څو خلک وکړای شي په خپله ارزونه وکړي او معلومات مطالعه کړي.
- دشکايتونو دميکانيزم برابرول تر څو ددولتي کارکوونکو دندې يقيني کړي..
- دقراردادونو ښکاره کول

ددې سر بيره ، دافغانستان له دولت څخه غوښتل شوي تر سو معلوماتو ته دلاسرسي دقانون دتصويب لپاره يو مهال وټاکي او دهغه پلي کول په پراخه کچه دلوستو ، نالوستو ، کليو او بانډو کې ښځو او نرو ته اعلان کړي تر څو په ټوليز ډول تطبيق شي. همدارنگه خلکو او نورو ارگانونو ته تر سو معلوماتو ته دلاسرسي له قانون څخه گټه پورته کړي . قانون دې ته اړتيا لري تر څو دڅارنې او دپلې کولو دميکانيزمونو له لياري يې ملاتړ وشي.

**دلا زياتو معلوماتو لپاره :**


کورولينا اولوفسن
داړيکو او دادخواهۍ مشره
داړيکو شميره : +93 785 430 765
ايميل : Karolina.Olofsson@iwaweb.org
ويب پاڼه : Website: www.iwaweb.org